مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۷/۰۲

# بی دفاع افغانان او د پاکستان وحشت

د پاکستان له خوا پر افغانستان هوايي بريدونو، پر ټولنيزو رسنيو پراخ غبرګونونه را پارولي او د دغه هيواد پر وړاندې د سخت پوځي ګوزارونو غوښتونکي دي.

پاکستان د افغانستان لپاره د تل پاتي دوښمن په توګه د خپل کرغيړن موجوديت راهيسي تل دا ثابته کړې، چې هر ډول ناروا عمل تر سره کړي او هيڅکله پرې نه ږدي،افغانان د ارامی ساه واخلي.
د نړی هيوادونو په تاريخ کې،داسي بيلګه نه شو موندلی، چې يو هيواد، خپله امنيتي کمزورۍ پر ګاونډي هيواد وتپي او پر هغه هيواد هوايي بريدونه وکړي.
پرته له اسرائيل، چي نن ورځ پاکستان ترينه په ظلم او تيري کې ډير مخکې روان دی.
دی هوايي بريدونه کوي، چې په کې وژل شوي کسان، ټول ملکي وګړي دي، چې زيات شمير يي ماشومان او ښځې دي. تر اوسه د کوم طالب، يا وسله وال وژنه نه ده تائيد شوي.
د پاکستان وحشي بريدونو په لړ کې، داسلم خان په نوم دا زلمی شاعر چې د پاکستان له بريدونو يي خپله ويديو څو ساعته مخکې خپره کړې وه ، په اسماني رنګه، خامکي غاړې جامو کې ښکاري او داسې ورسره ليکلي و:«له دې کلي مو کډه وکړه، ژوند لنډ دی، ما ټول ښنلي او تاسي هم ما وبښئ.»
اسلم خان سائيل چي پر تيک تاک د پکتيا وال په نوم پيژندل کيده، د څمکنيو پر ولسوالی، د پاکستان په دويم هوايي بريد کې ووژل شو.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

د پاکستان داسې بې باکه وحشي، ظالمانه او زړورو بریدونو تر شا څو لاملونه شتون لري:

۱ ـ په افغانستان کې واک ته رسیدلي طالبان، د پاکستان په خوښه چلیږي په خاص ډول، د دوی مشران او له ولس مخ پټی مشر ملا هیبت خان.
د دوي ځینې لوړ پوړي چارواکي ویل کیږی چې د پاکستان پر صد دي. لکه د دفاع وزیر ملا یعقوب، په لومړي سر کې د پاکستان هوايي بریدونو ته غبرگون وښود،چې ژر د ملا هیبت الله له خوا د ملا یعقوب په داسې څرگندونو بندیز ولگیده او هغه ته گوت څنډنه وشوه، چې له داسې خبرو ډه ډه وکړي.ځکه خو په دومره سپین سترگۍ او جرات د هیواد هوايي حریم نقصوي. لکه اوس مهال پر طالب چارواکو خپل اغیز لري، د ښوونځیو تړل او ورته چارې هم د دوي په خوښه رواني دي او د طالبانو لوړ پوړي جاروکي د پاکستان په خوښه دا هر څه تر سره کوي.

۲ ـ پاکستان په دې بریدونو سره په دغه هیواد کې دننه، د نړیوالو پام د دوی،له ناامنۍ، شړیدلی اقتصادي وضعیت، د عام ولس نارضایتي او ویجاړ بشری ناورین څخه اړوي، د دغه ستونځو د حل له پاره اقدام نه کوي او په هیواد کې دننه هم د ولس پام د افغانستان پر لور را گرځوي، چې پر بیوزله افغانانو مرگوني هواي بمبارد کوي.ځکه هغوي پوهیږي چې لاس یې بر او طالب چارواکي یې پر وړاندې کلک ځواب ورکول نه غواړي.
۳ ـ
پاکستان د امریکي خوشالولو له پاره پر افغانستان هوايي بریدونه کوي،چې د امریکي ولسمشر یا نور په افغانستان کې د خپلو پاتې شویو وسلو له پاره اندیښنه لري او دوي پر افغانستان د بریدونو جرآت اخلي. څارونکي وایي،چې پاکستان د خپل جوړښت راهیسې، په افغانستان کې د هر ډول ارامي او پرمختگ تر مخ خنډ دي،
که په افغانستان کې واکداران د وگړو ژوند نه شي خوندي کولی، بیا د واک لرلو دعوه څنگه کوي، په داسې حال کې چې د گاونډي خونړیو، بریدونو مخنیوی نه شي کولی.
دا چې په افغانستان کې د واک پر گدۍ ناست بې مسولیته ملایانو، د ټولنیز ژوند پرمختگ لپاره د رڼا هر ډول څرک تیاره کړی او دا لړۍ لا روانه ده.

او یا لکه چې افغانانو لپاره د نړیوالو انساني احساس مړ شوی چې وژنه او له منځه وړنه یې کوم ارزښت نه لري.

دلته اوس پوښتنه دا ده، چې ایا د بشري حقونو لپاره کومه ټولنه یا اداره شتون لري، چې داسې په ظالمانه ډول، بیگناه انسانان د مرگ کندې ته ټیل وهل کیږي.

نن د بیوزله افغانانو په وژنه ولې نړۍ خاموشه ده؟ تر اوسه هیڅ غبرگون نه ښکاري.دا به کوم درد دوا کړي، چې یو یې وغندي او بل پرې اندیښنه ښکاره کړي.

رغنده او بیړني اقدام دا دی، چې د افغانستان امنیتي چاروکي، پولیس او نورې اړوندې اداري مسولین، د ملگرو ملتونو، د بشري حقونو ټولنې استاذي، د پیښې ځاي ته لاړ شي،د قرباني شویو حال مستند کړي او را پور د بشري حقونو لوړ پوړو مسولینو او اړوندو ادارو او بیا نړیوالي محکمې ته وړاندې شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ